مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

د ص سعیدی

۲۰۲۶/۰۴/۰۴

# سلام مشرانو او کشرانو!

شپې مې یوه تبصره ولیکله خو د تخنیکي مشکل له کبله راته ښکاري، ورکه شوه. اوس د سهار ۵ بجې دي، یوه لنډه تبصره چې تلګرافی ده، درسره شریکوم:

مؤمن او مسلمان فرق لري. مسلمان که خپلو اظهاراتوکي صادق وي، مؤمن دی. که صادق نه وي، مؤمن نه دی. ددې خبرې چې څوک څه نیت لري، د بنده اود الله ج تر مینځ او پر زړونو الله ج دانا دی!

خو اعمال، کړنې او اظهارات مونږ ته د قضاوت فرصت راکوي! مونږ په قضاوت کې د صلاحیت، اجتهاد، مجتهد، فتوا او مفتی شرایطو بحث لرو. د تکفیری ډلو بحث هم چې ورته افراطیان وایو او په هر چا د تکفیر حکم صادر او ټولنې له بحران سره مواجه کوي، هم لرو!

دغه بحث کې یو مشرک او بل شرکي اظهارات دي! که کوم مسلمان اظهارات وکړل او ما مفتی!؟ ته دا او هغه اظهارات شرکي ښکاره شول ، مناسبه ده، چې ووایم دغه اظهارات شرکي دي او په دغه دلیل او وراضافه کړم، والله اعلم ! کفری او شرکي اظهارات عمدي، جهالتی، لجاجتی او تعصبی انګیزې لرلای شي او لري! مونږ ته په دغه مواردو کې د خپلو صلاحیتو په لرلو ، د انصاف او عدالت په نظر کې نیولو سره سره صرف دا امکان شته چې ووایو: دغه او یا هغه اظهارات او تأکیدات کفري او یا شرکي، دي! داچې دا کس چې دغه او هغه اظهارات او تأکیدات لري، مشرک او یا کافر دی او حکم وکړو، دا ګناه لري او ډېر منفی جوانب لري او د داسې حکم صادرولو سفارش نه کوم. دا مه کوئ، ضرر او ګناه یې خپله تاسو ته راجع کیږي! شاوخوا مویدین هم په ګناه کې شریک ښکاري! انتخاب ستاسو! ما غاړه خلاصه کړه! هو تا را بده وویلې، زه هم بده وایم، هغه بیا بل بحث دی!

الله ج دې مونږ ټولو ته د انصاف او نیکی هدایت وکړي!



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ